Methimazole د Propythiouracil څخه د اغيزمنتوب له نظره، اړخيزو اغيزو له نظره او د Response له نظره ښه دوا ده نو ځکه د Pregnancy په دوهم او دريم ترايمستر کې ورکول کيږي. (د حمل په لمړي ترايمستر کې Propythiouracil ورکول کيږي)

2. **Radioactive iodine:**

شعاع لرونکي ايوډين دي، د خولې له لارې خوړل کيږي او ځان د تايرايد غدې ته رسوي کله چې د تايرايد په واسطه واخيستل شو نو هلته په local شکل د Beta وړانګې Release کوي او د Follicle د حجراتو د تخريب سبب ګرځي.

Radiation لري نوځکه په Pregnancy کي نه ورکول کيږي، که چاته ورکول شي نو بايد د يو څه وخت لپاره په روغتون کې وساتل شي د نورو خلکو څخه يو متر فاصله ولري ځکه شعاع لري او څرنګه چې Local شعاع ده نو شايد د ځان سره شاوخوا يو څه انساج هم تخريب کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



3. **Surgery:**

دې ناروغانو ته جراحي په لاندي حالتونو کي ترسره کيږي:

- هغه ناروغان چي د درملني په مقابل کي مقاوم پاتي شي.
- هغه ناروغان چي د درملني د بنده والي څخه وروسته يکي ناروغي دوباره Relapse وکړي.
- او کله چي ناروغان خپله وغواړي چي Goiter لري کړي.

4. **Beta blockers:**

   a) Propanolol

   b) Nodolol

دا يواځې اعراض (Palpitation ،Tachycardia ،Sweating ،Tremor) بنده کوي.

**Block and Replace regimen:**

- Carbimazole 40mg + Thyroxin 100Mcg

ددې رژيم ګټه داده چي د Over او Under treatment څخه مخنيوي کوي (ناروغ نه Hyper ته ځي او نه Hypo ته)

(c) ketabton.com: The Digital Library







**Fig. 18.5 Establishing the differential diagnosis in thyrotoxicosis.** [1]Graves' ophthalmopathy refers to clinical features of exophthalmos and periorbital and conjunctival oedema, not simply the lid lag and lid retraction that can occur in all forms of thyrotoxicosis. [2]Thyroid-stimulating hormone (TSH) receptor antibodies are very rare in patients without autoimmune thyroid disease but occur in only 80–95% of patients with Graves' disease; a positive test is therefore confirmatory but a negative test does not exclude Graves' disease. Other thyroid antibodies (e.g. anti-peroxidase and anti-thyroglobulin antibodies) are unhelpful in the differential diagnosis since they occur frequently in the population and are found with several of the disorders that cause thyrotoxicosis. [3]Scintigraphy is not necessary in most cases of drug-induced thyrotoxicosis. [4] $^{99m}$Technetium pertechnetate scans of patients with thyrotoxicosis. In low-uptake thyrotoxicosis, most commonly due to a viral, post-partum or iodine-induced thyroiditis, there is negligible isotope detected in the region of the thyroid, although uptake is apparent in nearby salivary glands (not shown here). In a toxic adenoma there is lack of uptake of isotope by the rest of the thyroid gland due to suppression of serum TSH. In multinodular goitre there is relatively low, patchy uptake within the nodules; such an appearance is not always associated with a palpable thyroid. In Graves' disease there is diffuse uptake of isotope.

(c) ketabton.com: The Digital Library



7

# Hypothyroidism {Online}

Hypothyroidism یو کلینیکي سنډروم دي چي د تایراید هورمونونو د سویي کموالي څخه پیدا کیږي د تایراید هورمونو د سویي کموالي نژدي د بدن د هري برخي د وظیفي خرابوالي سبب ګرځي.

Hypothyroidism دوه ډولونه لري:

1. **Primary Hypothyroidism:**

دلته مشکل په تایراید غده کي وي او 90-95% پیښبي د Hypothyroidism تشکیلوي.

2. **Secondary Hypothyroidism:**

دا نادر ډول دي، چي دلته مشکل د Pituitary غدي څخه TSH نه ازادیږي.

په Hypothyroidism باندي ښځینه نسبت نارینه وو ته زیات اخته کیږي، هغه میندي چي حمل ولري او په Hypothyroidism اخته وي نو د ماشوم IQ یي 7 چنده نسبت هغي ماشومانو ته چي مور یي د حمل په جریان کي Hypothyroidism نه درلود ښکته وي.

د Hypothyroidism سره شاید Goiter وي او یا نه وي موجود.

## Causes: اسباب:

1. **Hashimatous thyroiditis:**

دا خپله Autoimmune وتیره ده چي کیدلي شي ورسره Goiter وي او یا نه وي.

2. **Spontaneous atrophic Hypothyroidism:**

دا هم Autoimmune وتیره ده خو پکي Goiter نه وي موجود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



3. **Iatrogenic causes:**
    1) **Radioactive iodine therapy (Goiter + - )**
    2) **Thyroidectomy (Goiter - )**
    3) **Drugs (Amiodarone, Carbimazole) (Goiter + - )**
4. **Thyroiditis (Goiter + - )**
5. **Iodine Deficiency (Goiter ++ )**
6. **Amyloidosis (Goiter + )**
7. **Secondary TSH Deficiency (Goiter - )**

**20.10 Causes of hypothyroidism**

| Causes | Anti-TPO antibodies[1] | Goitre[2] |
|---|---|---|
| **Autoimmune** | | |
| Hashimoto's thyroiditis | ++ | ± |
| Spontaneous atrophic hypothyroidism | — | — |
| Graves' disease with TSH receptor-blocking antibodies | + | ± |
| **Iatrogenic** | | |
| Radioactive iodine ablation | + | ± |
| Thyroidectomy | + | — |
| Drugs | | |
| Carbimazole, methimazole, propylthiouracil | + | ± |
| Amiodarone | + | ± |
| Lithium | — | ± |
| **Transient thyroiditis** | | |
| Subacute (de Quervain's) thyroiditis | + | ± |
| Post-partum thyroiditis | + | ± |
| **Iodine deficiency**, e.g. in mountainous regions | — | ++ |
| **Congenital** | | |
| Dyshormonogenesis | — | ++ |
| Thyroid aplasia | — | — |
| **Infiltrative** | | |
| Amyloidosis, Riedel's thyroiditis, sarcoidosis etc. | + | ++ |
| **Secondary hypothyroidism** | | |
| TSH deficiency | — | — |

[1]As shown in Box 20.8, thyroid autoantibodies are common in the healthy population, so might be present in anyone. ++ high titre; + more likely to be detected than in the healthy population; — not especially likely.
[2]Goitre: — absent; ± may be present; ++ characteristic.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Clinical Picture: کلینیکي لوحه:

| Symptoms: | | | اعراض: |
|---|---|---|---|
| No: | Common: | Less Common: | Rare: |
| 1 | Weight gain | Constipation | Psychosis |
| 2 | Cold intolerance | Hoarseness | Galactorrhea |
| 3 | Fatigue | Carpal tunnel syndrome | impotence |
| 4 | Dry skin | Alopecia | |
| 5 | Dry hair | Aches and Pain | |
| 6 | Menorrhagia | Muscle stiffness | |
| 7 | | Deafness | |
| 8 | | Depression | |
| 9 | | Infertility | |

| Signs: | | علایم: |
|---|---|---|
| Weight gain | HTN | Enlarge tongue |
| Hoarse voice | Non pitting edema | Delayed reflexes |
| Ascites | Pericardial and Pleural effusion | Bradycardia |
| Ataxia | Loss of Lateral eyebrow | Anemia |

**Facial Features:**

- Purplish lips
- Malar flash
- Peri orbital edema

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Symptoms**

- Tiredness/malaise
- **Weight gain**
- Anorexia
- **Cold intolerance**
- Poor memory
- Change in appearance
- Depression
- Poor libido
- **Goitre**
- Puffy eyes
- Dry, brittle unmanageable hair
- Dry, coarse skin
- Arthralgia
- Myalgia
- Muscle weakness/Stiffness
- Constipation
- Menorrhagia or oligomenorrhoea in women
- Psychosis
- Coma
- Deafness



**Signs**

- **Mental slowness**
- Psychosis/dementia
- Ataxia
- Poverty of movement
- Deafness
- Periorbital oedema
- Deep voice
- (Goitre)

- 'Peaches and cream' complexion
- **Dry thin hair**
- Loss of eyebrows
- **Dry skin**
- Mild obesity

- Hypertension
- Hypothermia
- Heart failure
- **Bradycardia**
- Pericardial effusion
- Myotonia
- Muscular hypertrophy
- Proximal myopathy
- **Slow-relaxing reflexes**

- Cold peripheries
- Carpal tunnel syndrome
- Oedema
- Anaemia

Figure 19.17 **Hypothyroidism: symptoms and signs.** Bold type indicates symptoms or signs of greater discriminant value A history from a relative is often revealing. Symptoms of other autoimmune disease may be present.

## Investigations: معاینات:

1. **Blood:**
   a. **T4 ↓**
   b. **TSH ↑**
   c. **T3 (unhelpful):اندازه کول یي خاص کلینیکي ارزښت نه لري**
2. **ECG:**
   a. **Low voltage**
   b. **Bradycardia**

(c) ketabton.com: The Digital Library



3. Cholesterol level ↑
4. HB ↓ (Anemia)
5. Na ↓ (Hyponatremia)
6. LDH ↑
7. ALT ↑

## Complications: اختلاطات:

1. Ischemic Heart Disease:

چې ددې غوره علت په Hypothyroidism کې Dyslipidemia او HTN دي بلاخره IHD په HF باندې بدليږي.

2. HTN
3. Infection:

دغه ناروغان زيات انتان ته مساعد دي خصوصآ بار بار پکې Bacterial pneumonia پيدا کيږي.

4. Psychosis with paranoid delusions:

دا پکې تاسس کوي چې ورته Myxedema madness وايي.

5. Infertility
6. Abortion
7. Myxedema crisis and Myxedema coma:

په دې کې د مړيني کچه تر 50% پورې رسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درملنه: Treatment:

1. **Thyroxin:**

تایروکسین په لومړي کي د کم ډوز څخه شروع کوو، 50MicGr په ورځ کي یو ځل د دري هفتو لپاره ناروغ ته توصیه کیږي. ددې په تعقیب د دري هفتو څخه وروسته ډوز لوړو 100MicGr په ورځ کي یوځل د دري هفتو لپاره نور هم توصیه کوو او بلاخره Maintenance دوز ته یي رسوو چي دا ډوز یي 100-150MicGr د ورځي یوځل دي.

په ځوانو ناروغانو کي کولای شو چي د لوړ ډوز څخه یي شروع کړو کولای شو چي راساً یي د 100MicGr څخه شروع کړو.

6 هفتي وروسته باید TFT تکرار شي خو مهمه خبره داده چي ډوز یي داسي برابر کړو چي د TSH سویه نارمل شي د TSH د سویي نارمل کیدل ډیر ارزښت لري (Maintenance ډوز باید داسي اعیار کړو چي د TSH سویه نارمل وساتي)

Clinical improvement اکثره 2-3 هفتي وروسته پیدا کیږي.

بدبختانه ډیر ناروغان دې ته ضرورت پیدا کوي چي د ټول عمر لپاره تایروکسین واخلي.

## Thyroxin treatment in IHD

لکه څنګه چي IHD د Hypothyroidism یو اختلاط دي نو اکثره Hypothyroidism سره یوځاي IHD مل وي. کله چي تایروکسین شروع کوو امکان شته چي IHD تشدید شي حتا HF تشدید شي او MI پیدا شي، نو په دې اساس کله چي IHD یا د زړه نورې ناروغي موجودي وي پکار ده چي د کم ډوز تایروکسین (25MicGr/Day) څخه شروع

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړو، ډوز یې ډېر په ورو ډول سره لوړ کړو د ضرورت په وخت کې ناروغ ته Coronary artery bypass grafting او یا هم PCI ناروغ ته اجرا کړو.

## Hypothyroidism in Pregnancy

په Pregnancy کې Hypothyroidism د Abortion سبب ګرځي او هغه میندې چې Hypothyroidism ولري نو د ماشوم IQ یې 7 چنده کمه وي نسبت هغو ماشومانو ته چې میندې یې Hypothyroidism نلري (Euthyroid وي) په حامله ښځو کې د maintenance ډوز څخه پرته 25-50MicGr اضافي تایروکسین ته ضرورت دی (د Maintenance ډوز سره سره 25-50MicGr اضافي تایروکسین ته ضرورت دي)

**د لاندې علتونو له وجې په حامله ښځو کې اضافي تایروکسین ته ضرورت دی:**

1. Thyroxin binding globulin level ↑ in Pregnancy
2. Thyroxin metabolism by placenta
3. Demand ↑

## Myxedema Coma

دا د Hypothyroidism یو نادر او شدید اختلاط دی چې په پرمختللو حالتونو کې پیدا کیږي، په زړو خلکو کې پیدا کیږي، زاړه خلک که د انتاناتو سره، د یخې هوا سره مخ شي او یا ورته د CNS کومه ناروغي پیدا شي نو امکان لري چې Hypothyroidism پرمختللي حالت ته لاړ شي او ناروغ ته Myxedema coma پیدا شي.

په Myxedema coma کې Mortality rate تر 50% پورې رسیږي په دې ناروغانو کې د Consciousness لیول خرابیږي، Hypothermia پکې پیدا کیږي، په ناروغانو کې اختلاجات (Convulsions) پیدا کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغ باید په اني ډول سره تداوي شي، دې ناروغانو ته Levothyroxine 500MicGr د IV له لاري په Loading dose او په تعقیب یي 50-100MicGr د ورځې یو ځل د IV له لاري توصیه کیږي. هغه ناروغان چې Hypothermia لري نو ورو ورو د حرارت درجه یي نورماله شي ځکه که په اني ډول سره د حرارت درجه نارمل شي نو Cardiovascular collapse نور هم تشدیدوي، نو ددې لپاره یواځې د Blankets څخه استفاده کوو.

د Hypoglycemia لپاره 5% Dextrose د IV له لاري توصیه کیږي، Hyponatremia لپاره ناروغانو ته 0,9% NaCl توصیه کیږي، همدارنګه Hydrocortisone 100MicGr د IV له لاري توصیه کیږي. که انتان موجود وي هغه باید تداوي شي، په پرمختللو حالتونو کي چې Hypoxia، Hypercapnia موجوده وي نو Intubation تو Mechanical ventilation ترسره کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 8 Cushing Syndrome {online}

په بدن باندي د Cortisol یا Corticosteroids اغیزي:

1. **Effects on Carbohydrate metabolism:**
   1) Gluconeogenesis ↑
   2) Glycogenolysis ↑
2. **Effects on Lipid metabolism:**
   1) Lipolysis
   2) Fat deposition
3. **Effects on Protein metabolism:**
   1) Protein storage ↓
   2) Muscle wasting
4. **Effects on Stress and Inflammation**
5. **Cellular immunity ↓↓**
6. **Number of RBC ↑↑**
7. **Number of Platelets ↑↑**
8. **GFR ↑↑**
9. **Prevention of Wound healing**
10. **Promote Peptic ulcer**
11. **Osteoporosis**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تعریف:

Cushing syndrome اصطلاح د هغه کلینیکي څرګندونو څخه عبارت دي کومي چي په دوران کي د Corticosteroids د کچي زیاتوالي له امله منځ ته راځي. (که د هر سبب له وجي په دوران کي Corticoids زیات شي نو ناروغ ته Cushing syndrome پیداکیږي)

د یادوني وړ ده چي Cushing syndrome په ښځینه وو کي نسبت نارینه وو ته زیات وي.

## اسباب: Causes:

1. **Exogenous causes:**

ناروغ به له بیرون څخه Corticosteroids لکه Prednisolone اخلي.

2. **Endogenous causes:**
   1) **ACTH Dependent:**

دلته مشکل په ACTH کي وي (ACTH سویه پکي لوړه وي) د ACTH د سویي لوړوالي دوه منشاء لري:

   I. **Pituitary adenoma**
   II. **Ectopic ACTH syndrome (Small cell CA, Pancreas tumor)**

   2) **Non ACTH Dependent:**

دلته د ACTH سویه لوړه نه وي بلکي مشکل په Adrenal غده کي وي لکه:

I. **Adrenal adenoma**
II. **Adrenal carcinoma**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 18.38 Classification of endogenous Cushing's syndrome

### ACTH-dependent – 80%

- Pituitary adenoma secreting ACTH (Cushing's disease) – 70%
- Ectopic ACTH syndrome (bronchial carcinoid, small-cell lung carcinoma, other neuro-endocrine tumour) – 10%

### Non-ACTH-dependent – 20%

- Adrenal adenoma – 15%
- Adrenal carcinoma – 5%
- ACTH-independent macronodular hyperplasia; primary pigmented nodular adrenal disease; McCune–Albright syndrome (together <1%)

### Hypercortisolism due to other causes (also referred to as pseudo-Cushing's syndrome)

- Alcohol excess (biochemical and clinical features)
- Major depressive illness (biochemical features only, some clinical overlap)
- Primary obesity (mild biochemical features, some clinical overlap)

(ACTH = adrenocorticotrophic hormone)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Clinical Picture: / کلینیکي لوحه:

څرنګه چي دا یو کلینیکي سنډروم دي نو په ناروغانو کي لاندي کلینیکي اعراض موجود وي:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Hair thinning | 10 | Peptic ulcer S/S | 19 | Steriae in abdomen |
| 2 | Hairsutism (in female) | 11 | Loss of Height | 20 | Skin Thickness ↓ |
| 3 | Acne (in female) | 12 | Tendency to infection | 21 | Muscle wasting |
| 4 | Plethora | 13 | Poor wound healing | 22 | Osteoporosis |
| 5 | Moon like face | 14 | Back pain | 23 | Bruising |
| 6 | Psychosis | 15 | Pathologic bone fracture | 24 | Little inflammatory response |
| 7 | Cataracts | 16 | Hyperglycemia | | |
| 8 | Hypertension | 17 | Oligomenorrhea | | |
| 9 | Exophthalmos | 18 | Central obesity | | |





Fig. 20.19 Cushing's syndrome. [A] Clinical features common to all causes. [B] A patient with Cushing's disease before treatment. [C] The same patient 1 year after the successful removal of an ACTH-secreting pituitary microadenoma by trans-sphenoidal surgery.


(c) ketabton.com: The Digital Library



**Symptoms**

- Weight gain (central)
- Change of appearance
- Depression
- Insomnia
- Amenorrhoea/ oligomenorrhoea
- Poor libido
- Thin skin/easy bruising
- Hair growth/acne
- Muscular weakness
- Growth arrest in children
- Back pain
- Polyuria/polydipsia
- Psychosis

Old photographs may be useful



**Signs**

- Moon face
- **Plethora**
- Depression/psychosis
- Acne
- Hirsutism
- Frontal balding (female)
- **Thin skin**
- **Bruising**
- Poor wound healing
- Pigmentation
- Skin infections
- **Hypertension**
- Osteoporosis
- **Pathological fractures (especially vertebrae and ribs)**
- Kyphosis
- 'Buffalo hump' (dorsal fat pad)
- Central obesity
- **Striae (purple or red)**
- Rib fractures
- Oedema
- **Proximal myopathy**
- Proximal muscle wasting
- Glycosuria

**Figure 19.15 Cushing's syndrome: symptoms and signs.** Bold type indicates signs of most value in discriminating Cushing's syndrome from simple obesity and hirsutism.

## Investigations: معاینات:

1. **Establishing presence of Cushing Syndrome:**

**دا معاینات د Cushing syndrome د تشخیص تایید لپاره ترسره کوو:**

I. **Overnight Dexamethasone suppressing test:**

**د شپې لخوا ناروغ ته یو ملي ګرام Dexamethasone ورکوو، سهار کې د ناروغ په سیروم کې د Cortisol سویه تعینوو، که د Cortisol سویه د 1,8MicGr/dl څخه کمه وو نو د Cushing syndrome تشخیص رديږي او که دغه سویه زیاته وي نو د Cushing syndrome تشخیص تایید کیږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



II. Low dose Dexamethasone suppressing test:

دا عامه معاینه ده خو که د پورتني معاینې سره ناروغي شکمنه پاتي شوه نو دا معاینه کوو نیم ملي ګرام Dexamethasone هر 6 ساعته وروسته د 48 ساعتونو لپاره ورکوو، که چیري Response نارمل وي نو د Serum cortisol کچه 48 ساعته وروسته باید د 50NanoMol/Lit څخه کمه وي خو که دا سویه کمه نه شوه نو د Cushing syndrome تشخیص تایید کیږي.

III. Late night Salivary cortisol:

د شپې په 11 بجو کې د Cortisol سویه تعینوو، په نورمال حالت کې د Cortisol سویه دشپې په 11 بجو کې د 150NGr/dl څخه ښکته وي خو کله چې Cushing syndrome موجود وي نو د Cortisol سویه د 250NGr/dl څخه زیاته وي.

IV. Increase 24 hours urine free cortisol:

د 24 ساعته ادرار د Free cortisol د سویې تعینول، که په 24 ساعته ادرار کې د Cortisol کچه د 150MicGr/day څخه زیاته وه نو د Cushing syndrome په ناروغي دلالت کوي.

پورته څلور معاینات د Cushing syndrome د تشخیص تایید لپاره کوو.

2. To determine the underlying cause:

په دې کې د Cushing syndrome علتونه معلوموو:

I. Plasma ACTH:

تعینوو:

- که چیري د ACTH سویه ښکته وي نو افت به په Adrenal غده کې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که چیري د ACTH سویه زیاته وي نو افت به په Pituitary غده کي او یا به Ectopic ACTH وي، ACTHخو زیات دي خو ددې لپاره چي معلوم کړو افت په Pituitary کي دي او که په Ectopic ACTH کي دي نو ورته High dose Dexamethasone suppressing test ترسره کوو ناروغ ته په لوړ دوز Dexamethasone ورکوو، 2mg Dexamethasone هر 6 ساعته بعد د 48 ساعتونو لپاره ورکوو که سبب یي Pituitary وي نو د ACTH سویه کمیږي او که چیري یي علت Ectopic ACTH وي نو د ACTH په سویه کي کوم خاص تغیر نه راځي.

   II. CT scan and MRI

3. Glucose level ↑↑ (Hyperglycemia)
4. Potassium level ↓↓ (Hypokalemia)
5. TLC ↑↑ (Leuckocytosis)

## Complications: اختلاطات:

1. HTN
2. Diabetes
3. Infection
4. Osteoporosis
5. Pathologic fracture
6. Renal calculi
7. Psychosis

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Treatment: درملنه:

که چیرې ناروغان تداوي نه شي نو mortality rate یې په 5 کلنو کې 50% دي، مړینه اکثره د Hypertension، MI، انتاناتو او د HF څخه پیدا کیږي.

څرنګه چې د ناروغي اکثره علتونه Endogenous وي نو اکثره یې جراحي تداوي کیږي.

که چیرې ناروغان HTN لري نو ددې د کنټرول لپاره ښه درمل Spironolactone او CCB دي. همدرانګه هغه ښځې چې Hypergonadism لري (Ance ډیرې ولري، Hairsutism ولري) نو کولای شو چې د Flutamide په واسطه یې تداوي کړو.

لاندې ګروپ درمل چې د Adrenal غدې څخه د Cortisol افراز کموي هم ناروغانو ته ورکولای شو:

1. Pasireotide
2. Metyrapone
3. Ketoconazole

**Table 19.11** Dexamethasone suppression test in the diagnosis of Cushing's syndrome

| Test and protocol | Measure | Normal test result or positive suppression | Use and explanation |
|---|---|---|---|
| **Dexamethasone (for Cushing's)** | | | |
| **Overnight** | | | |
| Take 1 mg on going to bed at 23:00 hours | Plasma cortisol at 09:00 hours next morning | Plasma cortisol <100 nmol/L | Outpatient screening test Some 'false positives' |
| **'Low-dose'** | | | |
| 0.5 mg 6-hourly Eight doses from 09:00 hours on day 0 | Plasma cortisol at 09:00 hours on days 0 and +2 | Plasma cortisol <50 nmol/L on second sample | For diagnosis of Cushing's syndrome |
| **'High-dose' used in differential diagnosis** | | | |
| 2 mg 6-hourly Eight doses from 09:00 hours on day 0 | Plasma cortisol at 09:00 hours on days 0 and +2 | Plasma cortisol on day +2 less than 50% of that on day 0 suggests pituitary-dependent disease | Differential diagnosis of Cushing's syndrome Pituitary-dependent disease suppresses in about 90% of cases |

Plasma cortisol values are very dependent upon the assay used – local reference ranges must be consulted.

(c) ketabton.com: The Digital Library



9

# Addison Disease {online}

## (Primary adrenal insufficiency)

## تعریف:

دا یو غیري دودیزه (uncommon) اندوکرایني ناروغي ده چې د Adrenal د Cortex برخې د ویجاړتیا او د وظیفي د نه ترسره کیدو له وجې پیدا کیږي.

کله چې د ادرینال Cortex برخه ویجاړه شي او وظیفه ترسره نه کړي نو Cortisol، Aldosterone او د ادرینال Androgen هورمونونه نه جوړیږي او ددې څنډني عدم کفایه او کموالي پیدا کیږي خصوصآ د Chronic deficiency of cortisol له وجې ناروغانو ته زیات اعراض او علایم پیدا کیږي.

په دې ناروغانو کې د فیډبیک میکانیزم په اساس د ACTH اندازه په وینه کې لوړیږي او دغه ACTH بیا د Hyperpigmentation سبب ګرځي، کله کله په ناروغانو کې د Mineralocorticoid او د اندروجن د کموالي اعراض تاسس کوي.

نادرآ په ناروغانو کې Acute adrenal crisis پیدا کیږي چې دا خپله یو Medical emergency ده.

## اسباب: Causes:

1. **Autoimmunity:**

90% سبب تشکیلوي، کله چې د Adrenal په غده کې Autoimmuneویجاړتیا پیدا کیږي نو د ادرینال غدي وظیفه خرابیږي او دغه خرابوالي په gradually شکل د کلونو په موده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي پیدا کیږي. دغه Autoimmunity سره نوري Systemic Autoimmune ناروغي لکه Hypothyroidism، Pernicious anemia او Vitiligo همیشن مل وي.

2. **Tuberculosis:**

توبرکلوز د ادرینال غدي عام انتان دي.

3. **Infections:**
    1) **Histoplasmosis**
    2) **CMV**
    3) **Syphilis**
4. **Bilateral Adrenal Hemorrhage:**
    1) **Sepsis**
    2) **Heparin induced thrombocytopenia**
    3) **Anticoagulant**
    4) **Trauma and major surgery**
    5) **Meningococcemia**
5. **Congenital adrenal insufficiency**
6. **Drugs:**
    1) **Mitotane**
    2) **Abiraterone**
7. **Rare causes:**
    1) **Lymphoma**
    2) **Amyloidosis**
    3) **Hemochromatosis**

**i 18.41 Causes of adrenocortical insufficiency**

**Secondary (↓ACTH)**
- Withdrawal of suppressive glucocorticoid therapy
- Hypothalamic or pituitary disease

**Primary (↑ACTH)**

Addison's disease

| *Common causes* | *Rare causes* |
|---|---|
| • Autoimmune: Sporadic; Polyglandular syndromes (p. 688) | • Lymphoma |
| • Tuberculosis | • Intra-adrenal haemorrhage (Waterhouse–Friderichsen syndrome following meningococcal sepsis) |
| • HIV/AIDS | • Amyloidosis |
| • Metastatic carcinoma | • Haemochromatosis |
| • Bilateral adrenalectomy | |

Corticosteroid biosynthetic enzyme defects
- Congenital adrenal hyperplasias
- Drugs: metyrapone, ketoconazole, etomidate

(ACTH = adrenocorticotrophic hormone)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلینیکي لوحه: Clinical Features:

د دغه ناروغانو کلینیکي لوحه په دوه اساسو پیدا کیږي، یو د Adrenal عدم کفایه چې د Cortisol، Androgen او Aldosterone کموالي له وجې مختلف اعراض او علایم پیدا کیږي، بل په عکسوي ډول د ACTH د لوړ مقدار له وجې Hyperpigmentation پیدا کیږي. په ناروغانو کې کلینیکي لوحه کله کله Suddenly پیدا کیږي خو اکثرآ کلینیکي لوحه Gradually پیدا کیږي.

### په دې ناروغانو کې لاندې اعراض موجود وي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| Fatigue | Anxiety | Irritability | Reduce stamia |
| Weakness | Fever | Orthostasis and Hypotension | Salt craving: ناروغان د مالګې خوړلو ته زیات میلان پیدا کوي |
| Anorexia | Arthralgia | Hyperpigmentation | Cerebral Edema: چې دا متصف ده په: • Headache • Vomiting • Coma |
| Weight loss | Myalgia | Hypoglycemia S/S | Depression |
| Nausea | Chest pain | Diarrhea | Vomiting |

**Acute adrenal crisis:**

- Nausea
- Vomiting
- Fever
- Dehydration
- Hypotension
- Shock

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Symptoms**

- Weight loss
- Anorexia
- Malaise
- Weakness
- Fever
- Depression
- Impotence/amenorrhoea
- Nausea/vomiting
- Diarrhoea
- Confusion
- Syncope from postural hypotension
- Abdominal pain
- Constipation
- Myalgia
- Joint or back pain



**Signs**

- **Pigmentation, especially of new scars and palmar creases**
- Buccal pigmentation
- **Postural hypotension**
- Loss of weight
- General wasting
- Dehydration
- Loss of body hair
- (Vitiligo)

Figure 19.28 **Primary hypoadrenalism (Addison's disease): symptoms and signs.** Bold type indicates signs of greater discriminant value.

**i 18.42 Clinical and biochemical features of adrenal insufficiency**

| | Glucocorticoid insufficiency | Mineralocorticoid insufficiency | ACTH excess | Adrenal androgen insufficiency |
|---|---|---|---|---|
| Withdrawal of exogenous glucocorticoid | + | – | – | + |
| Hypopituitarism | + | – | – | + |
| Addison's disease | + | + | + | + |
| Congenital adrenal hyperplasia (21-hydroxylase deficiency) | + | + | + | – |
| Clinical features | Weight loss, anorexia<br>Malaise, weakness<br>Nausea, vomiting<br>Diarrhoea or constipation<br>Postural hypotension<br>Shock<br>Hypoglycaemia<br>Hyponatraemia (dilutional)<br>Hypercalcaemia | Hypotension<br>Shock<br>Hyponatraemia (depletional)<br>Hyperkalaemia | Pigmentation of:<br>Sun-exposed areas<br>Pressure areas (e.g. elbows, knees)<br>Palmar creases, knuckles<br>Mucous membranes<br>Conjunctivae<br>Recent scars | Decreased body hair and loss of libido, especially in females |

(ACTH = adrenocorticotrophic hormone)

## Investigations: معاینات:

1. **Moderate neutropenia**
2. **Lymphocytosis**
3. **Hypernatremia**
4. **Hyperkalemia**

(c) ketabton.com: The Digital Library



5. **Hypoglycemia**
6. **Hypercalcemia**
7. **Plasma cortisol↓↓:**

که چیري د Plasma cortisol سویه سهار 8 بجي د 3micGr/dl څخه کمه شي نو دا د Adrenal غدي په عدم کفایه دلالت کوي.

8. **ACTH ↑↑:** $\frac{200Pg}{Ml}$
9. **Cosyntropin stimulation test:**

د ناروغي د قطعي تشخیص لپاره دغه ټسټ اجرا کیږي، Cosyntropin ناروغ ته زرق کیږي، کله چي ناروغ ته Cosyntropin 0,25mg د IM له لاري زرق شي نو 45 دقیقي وروسته د ناروغ د Cortisol سویه تعینوو. په نورمال حالت کي که چیرته Adrenal insufficiency موجوده نه وي نو د Cortisol سویه د 20micGr/dl ته رسیږي او یا له دې څخه لوړیږي خو که چیري دغه د Adrenal insufficiency موجوده وي نو د Cortisol سویه د زرق سره نه لوړیږي.

10. **Serum DEHA: 100Ng/Ml↓↓**
11. **Serum Ant adrenal antibodies present: (in autoimmunity)**
12. **Serum Epinephrine↓↓**
13. **CT scan of Adrenal gland:**

که چیري سبب یي TB وي نو په CT scan کي به د Adrenal غدي منتشر Calcification موجود وي او که سبب یي Autoimmunity وي نو په CT scan کي به د Adrenal په غده کي Destructive changes او خپله د ادرینال غده Atrophic شوي وي (وړه شوي وي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Treatment: درملنه:

1. **Glucocorticoid replacement:**
    1) **Oral hydrocortisone 15-20mg/Daily:**

د مجموعي ورځ څخه 2/3 په سهار کي او 1/3 برخه يي په ماښام کي ورکول کیږي.

2. **Mineralocorticoid replacement:**
    1) **Fludrocortisone 0,05-15mg/daily:**

کله چي ناروغ ته دا درمل ورکول کیږي نو د ناروغ فشار باید نورمال وي، د الکترولایت Imbalance باید نورمال شي او د ناروغ د Renin د فعالیت کچه هم نورمالي اندازي ته راشي.

3. **Androgen replacement:**
    1) **DE hydro epiandrosterone (DEHA): 50mg/Daily:**

دا خصوصآ ښځو ته توصیه کیږي هغه ښځو ته کوم چي Fatigue ولري، همدارنګه هغه خلکو چي Libido يي کمه وي نو دا ډول Replacement ورته اجرا کیږي.

**ددې ترڅنګ چي پورته Replacements ناروغانو ته کوو نو یو څه توصیي ناروغانو ته کوو:**

1) که چیري ناروغ ته Fibril illness پیدا کیږي نو د Hydrocortisone ډوز باید Double شي.
2) که چیري ناروغ ته Minor surgery اجرا کیږي نو Hydrocortisone 100mg د IM له لاري د Premedication په شکل ورکول کیږي او که ناروغ Major surgery اجرا کوي نو Hydrocortisone 100mg هر 6 ساعته بعد د 24 ساعتونو لپاره او په تعقیب يي 50mg د IM له لاري هر 6 ساعته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته تر هغې پورې ترڅو چې ناروغ د ددې وړتیا پیدا کړي چې د خولې له لارې Hydrocortisone واخلي.

3) که چیرې دغه ناروغانو ته کانګې پیدا کیږي نو ناروغ ته د خولې له لارې Hydrocortisone نه ورکول کیږي بلکې Parenteral hydrocortisone ورکول کیږي.

4) دغه ناروغانو ته باید یو Steroid card جوړ کړل شي او په دې کارټ کې د ناروغ ټول وضعیت لیکل کیږي د ناروغ Information معلومات، د ناروغ تشخیص همدارنګه د سټرایډونو Dose، نوع، مربوطه ډاکټر او شفخانې ادرس او نمبر لیکل کیږي.

5) ناروغ ته Bracelet یا دست بند ورکول کیږي، دغه دست بند د تشخیص لپاره مهم دې او Steroid dependent دي. همدارنګه ناروغانو ته Emergency pack ورکول کیږي چې پکې Hydrocortisone موجود وي، ددغه Hydrocortisone لپاره ناروغ Train شي تر څو خپله یې ځانته تطبیق کړي. (100mg د IM له لارې)

| i | 18.40 Advice to patients on glucocorticoid replacement therapy |
|---|---|
| **Intercurrent stress** | |
| | • Febrile illness: double dose of hydrocortisone |
| **Surgery** | |
| | • Minor operation: hydrocortisone 100 mg IM with pre-medication<br>• Major operation: hydrocortisone 100 mg 4 times daily for 24 hrs, then 50 mg IM 4 times daily until ready to take tablets |
| **Vomiting** | |
| | • Patients must have parenteral hydrocortisone if unable to take it by mouth |
| **Steroid card** | |
| | • Patient should carry this at all times; it should give information regarding diagnosis, steroid, dose and doctor |
| **Bracelet and emergency pack** | |
| | • Patients should be encouraged to buy a bracelet and have it engraved with the diagnosis, current treatment and a reference number for a central database<br>• Patients should be given a hydrocortisone emergency pack and trained in the self-administration of hydrocortisone 100 mg IM; they should be advised to take the pack on holidays/trips abroad |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Adrenal Crisis {online}

دا یو Medical emergency ده کوم چي د Cortisol د پرمختللي عدم کفایي له امله منځ ته راځي. کیدلي شي چي Adrenal crisis نوي تشخیص شوي وي چي شاید Acute وي او یا په Chronic بدل شوي وي.

## Precipitating factors: مساعد کوونکي فکتورونه:

1. Stress:
   1) Infection
   2) Trauma
   3) Surgery
   4) Prolong fasting
2. Sudden withdrawal of Steroids:

   یعني که چیري په اني شکل سره ناروغ سټرایډ قطع کړي.

3. Bilateral adrenalectomy
4. Sudden destruction of adrenal gland
5. Injury to both adrenal gland (Trauma, Anticoagulant, infection)

## Clinical Picture: کلینیکي لوحه:

په دې ناروغانو کي لاندي اعراض موجود وي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| Headache | Nausea | Vomiting | Abd Pain |
| Diarrhea | Fever | Hypotension | Confusion |
| Coma | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Treatment:** **درملنه:**

ناروغانو ته د IV له لاري سمدلاسه نارمل سلاین ورکړل شي ترڅو د ناروغانو فشار او Pulse نورمال شي.

ناروغانو ته د IV له لاري Hydrocortisone 100mg (Bullous) او په تعقیب یي 100mg هر 6 ساعته بعد د 12-24 ساعتونو لپاره توصیه شي.

ناروغانو لپاره Parenteral hydrocortisone ته ادامه ورکوو 50-100mg د IM له لاري هر 6 ساعته بعد تر هغه وخته پوري ترڅو چي د oral دوا د اخیستلو قابلیت ولري.

که چیري Hypoglycemia موجوده وي نو کولاي شو د IV له لاري 10% Glucose ورکړو.

که چیري Hyperkalemia موجوده وي نو د مایعاتو له ورکړي سره اصلاح کیږي.

Identify and Treat underlying cause: او بلاخره سبب معلوم کړو او هم یي تداوي کړو چي اکثره پیښبو کي انتانات وي او د انتاناتو لپاره پکار ده چي ناروغانو ته سمدلاسه انتي بیوتیک شروع شي.

**18.44 Management of adrenal crisis**

**Correct volume depletion**
- IV saline as required to normalise blood pressure and pulse
- In severe hyponatraemia (<125 mmol/L) avoid increases of plasma Na >10 mmol/L/day to prevent pontine demyelination (p. 358)
- Fludrocortisone is not required during the acute phase of treatment

**Replace glucocorticoids**
- IV hydrocortisone succinate 100 mg stat, and 100 mg 4 times daily for first 12–24 hrs
- Continue parenteral hydrocortisone (50–100 mg IM 4 times daily) until patient is well enough for reliable oral therapy

**Correct other metabolic abnormalities**
- Acute hypoglycaemia: IV 10% glucose
- Hyperkalaemia: should respond to volume replacement but occasionally requires specific therapy (see Box 14.17, p. 363)

**Identify and treat underlying cause**
- Consider acute precipitant, such as infection
- Consider adrenal or pituitary pathology (see Box 18.41)

(c) ketabton.com: The Digital Library



10

# Pheochromocytoma {online}

یو نادر Neuro endocrine تومور دي چي ددغه تومور څخه Catecholamine (Epinephrine, Norepinephrine) ازادیږي. دا اصلآ د Chroma fine حجراتو نیوپلازم دي. د ناروغي (تومور) 80% پیښبې خپله د Adrenal په غده کي موجودي وي خو په 10-20% پیښو کي کیدلي شي دغه تومور د وجود په بله برخه کي پیدا شي لکه Symphatic ganglia، Gallbladder او Chest یا Mediastinum کي.

دا تومور اکثره په 40-50 کلنۍ عمر کي پیدا کیږي او په ښځینه وو کي نسبت نارینه وو ته زیات منځ ته راځي. په 90% پیښو کي تومور Unilateral وي او د تومور جسامت د 1 ګرام څخه تر 3 کیلو ګرام پوري رسیږي.

Causes: اسباب:

1. Idiopathic
2. Neurofibromatosis
3. Von hippel Landan syndrome
4. Multiple endocrine neoplasia 2 (MEN2)

ددې تومور لپاره لاندي Ten Rules استعمالیږي:

1. 10% Bilateral وي
2. 10% Extra adrenal وي
3. 10% Malignant وي
4. 10%  in Children
5. 10% without HTN

(c) ketabton.com: The Digital Library



6. 10% Family History +
7. 10% Cases discovered incidentally on imaging study:

یعني 10% پیښبې یې په روټیني معایناتو CT scan او MRI په Base کې تشخیص کیږي.

## Clinical Features: کلینیکي لوحه:

1. Hypertension (Usually paroxysmal)
2. Maybe complication of HTN like:

د HTN د اختلاط سره مراجع کوي یعني Target organ damage ورسره مل وي لکه:

   1) Stroke
   2) Myocardial infarction
   3) Heart failure
   4) Retinal hemorrhage
   5) Acute renal failure
   6) Acute pulmonary edema

3. Paroxysm of:
   1) Headache, Sweating and Palpitation:

په ناروغ کې په حملوي شکل دغه دري اعراض موجود وي، که چیري په یو ناروغ کې په حملوي شکل پورته دري اعراض موجود وي نو لومړي Pheochromocytoma ته فکر کیږي.

   2) Pallor
   3) Flushing

(c) ketabton.com: The Digital Library



4) **Anxiety**

5) **Tremor**

دغه پورته اعراض ناروغ ته په حملوي شکل پیدا کیږي.

4. **Weight loss**
5. **Constipation**
6. **Abdominal pain**
7. **Glucose intolerance**

**i 18.47 Clinical features of phaeochromocytoma**

- Hypertension (usually paroxysmal; often postural drop of blood pressure)
- Paroxysms of:
  Pallor (occasionally flushing)
  Palpitations, sweating
  Headache
  Anxiety (angor animi)
- Abdominal pain, vomiting
- Constipation
- Weight loss
- Glucose intolerance

**Table 19.33 Symptoms and signs of phaeochromocytoma**

| Symptoms | Signs |
|---|---|
| Anxiety or panic attacks | Hypertension |
| Palpitations | Tachycardia/arrhythmias |
| Tremor | Bradycardia |
| Sweating | Orthostatic hypotension |
| Headache | Pallor or flushing |
| Flushing | Glycosuria |
| Nausea and/or vomiting | Fever |
| Weight loss | (Signs of hypertensive damage) |
| Constipation or diarrhoea | |
| Raynaud's phenomenon | |
| Chest pain | |
| Polyuria/nocturia | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Exacerbating factors: تشدید کوونکي فکتورونه:

د تومور څخه د Epinephrine او Norepinephrine ازادیدل د یو شمیر تشدید کوونکي فکتورونو په واسطه کیږي:

1. Exercise
2. Bending
3. Emotional stress
4. Drugs:
    1) Decongestant
    2) Amphetamines
    3) Cocaine
    4) SSRI
    5) Metoclopramide

## Investigations: معاینات:

1. ESR ↑↑
2. Leukocytosis
3. Hyperglycemia
4. Serum chromogen A ↑↑
5. 24 Hours urine= Metanephrine level 2,2MicGr/mg creatinine ↑↑
6. Urine= Vanyl mandelic acid ↑↑
7. Plasma epinephrine ↑↑

(c) ketabton.com: The Digital Library



8. Abdominal CT scan and MRI:

د تومور د Localize کولو لپاره ترسره کیږي.



Fig. 18.24 CT scan of abdomen showing large left adrenal phaeochromocytoma. The normal right adrenal (white arrow) contrasts with the large heterogeneous phaeochromocytoma arising from the left adrenal gland (black arrow).

## Complications: اختلاطات:

1. HTN Emergency
2. Cardiomyopathy
3. Arrhythmia and Sudden cardiac death
4. Hypotension after tumor surgery
5. Shock due to spontaneous bleeding in tumor

## Treatment: درملنه:

څرنګه چي تومور دې نو تومور جراحي تداوي غواړي، خو Medical تداوي هم ضروري ده ترڅو ناروغ د عملیات لپاره اماده شي. چي حداقل ناروغ ته د 6 هفتو لپاره تطبیق کیږي:

1. Medical therapy:
   1) Alpha blockers (phenoxybenamine 10-20mg/8hrs):

که چیري د Alpha blockers د ورکړي سره ناروغ ته زیاته Tachycardia پیدا کیږي نو کولاي شو لاندي درمل ورکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



2) Beta blockers (Propranolol):

خو دا باید په یاد ولرو چې دغه ناروغانو ته هیڅکله هم یواځې Beta blocker نه توصیه کیږي او یا هیڅ کله Beta blocker د Alpha blocker څخه مخکې نه توصیه کیږي ځکه که ناروغ ته یواځې Beta blocker ورکړل شي نو Paradoxical د فشار د وچتیدو سبب ګرځي.

2. During surgery:

کله چې ناروغ ته جراحي عملیات ترسره کیږي (تومور Remove کیږي) نو د فشار د کنټرول لپاره Sodium nitroprusside او Phentolamine بنه درمل دي ورکول کیږي.

3. Post operation:

د عملیات څخه وروسته ناروغ ته Hypotension پیدا کیږي چې کولای شو په دې حالت کې ناروغ ته IV Fluid ورکړو.

4. In Metastatic Pheochromocytmoma:

په دې حالت کې ناروغانو ته Chemotherapy او Radioisotope therapy توصیه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



11

# Diabetes Insipidus{online}

## تعریف:

غیري دودیزه اندوکرایني نقیصه ده چې متصف په Excessive dilute urine او Thirst یا تندي سره ده.

د ناروغ د ادرار حجم په 24 ساعتونو کې د 4 لیترو څخه زیات وي او په شدیدو حالتونو کې دغه د ادرار حجم تر 20 لیترو پورې هم رسیدلي شي.

## ډولونه:

Types of Diabetes insipidus:

1. Cranial DI
2. Nephrogenic DI
3. Gestational DI
4. Primary Polydipsia

| i | 18.60 Causes of diabetes insipidus |
|---|---|
| | **Cranial** |
| | **Structural hypothalamic or high stalk lesion**<br>• See Box 18.54 |
| | **Idiopathic** |
| | **Genetic defect**<br>• Dominant (*AVP* gene mutation)<br>• Recessive (DIDMOAD syndrome – association of diabetes insipidus with diabetes mellitus, optic atrophy, deafness) |
| | **Nephrogenic** |
| | **Genetic defect**<br>• V2 receptor mutation<br>• Aquaporin-2 mutation<br>• Cystinosis |
| | **Metabolic abnormality**<br>• Hypokalaemia<br>• Hypercalcaemia |
| | **Drug therapy**<br>• Lithium<br>• Demeclocycline |
| | **Poisoning**<br>• Heavy metals |
| | **Chronic kidney disease**<br>• Polycystic kidney disease<br>• Sickle-cell anaemia<br>• Infiltrative disease |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Cranial (Central) Diabetes insipidus

دلته نقیصه د Antidiuretic هورمون په افراز کې موجود وي کمې اندازې سره یاد هورمون د Pituitary غدې څخه افرازیږي.

**Causes:** اسباب:

1. **Hypothalamic structural lesions:**
   1) Trauma
   2) Surgery
   3) Sarcoidosis
   4) Tumors
   5) Infections
2. **Idiopathic**
3. **Genetics**

## Nephrogenic Diabetes insipidus

دلته د Pituitary غدې څخه په کافي اندازه د ضرورت په اساس Antidiuretic هورمون ازادیږي خو نقیصه په پښتورګو کې وي.

**Causes:** اسباب:

1. **Genetic Defect:**

عام سبب یې جنټیک دی، په پښتورګو کې جنټیکي نقیصه موجوده وي چې دغه نقیصه په دوو ځایونو کې موجوده وي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



1) Vasopressin 2 Receptors Mutation
2) Aquaporin 2 Mutation

پورته دواړه یي عام سببونه دي او لاندیني یي نادر اسباب دي:

2. Hypokalemia
3. Hypercalcemia
4. Lithium (drug)
5. Polycystic kidney disease
6. Infiltrative disease of kidney
7. Sickle cell anemia

## Gestational Diabetes insipidus

دا د حاملګي په جریان کي خصوصآ د حاملګي د دریم ترایمستر په جریان کي پیدا کیږي، په دې DI کي د پلاسنټا څخه یو انزایم چي Vasopressin نومیږي ازادیږي چي دغه انزایم د Vasopressin هورمون اغیزي خرابوي، دا یواځي Endogenous vasopressin تخریبوي.

کله چي ناروغ ته د بیرون څخه Synthetic vasopressin ورکړو نو دا انزایم په هغي Vasopressin باندي کوم خاص تاثیر نلري.

## Primary Polydipsia

په دې ډول کي ناروغان پرته له کوم Defect څخه زیاتي اوبه څښي (د تندي عکسه یي ډیره تنبي کیږي)

دا اکثره Psychiatric ستونزو کي موجود وي دا ناروغان Polydipsia لري اوبه ډیري څښي چي له وجي یي د Urine volume زیاتیږي او ناروغانو ته Polyuria پیدا کیږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه په دې ډول ناروغانو کې د ADH په افراز کې او په فزیولوژیک Action کې کومه نقیصه موجوده نه وي. او په Reflex ډول په ناروغانو کې د ADH سویه ښکته وي.

## Clinical Features: کلینیکي لوحه:

1. Sever polyuria
2. Polydipsia
3. The patient may pass 5-20 liters urine per 24hours:

ناروغان شاید په 24 ساعتونو کې 20-5 لیتره ادرار خارج کړي.

4. Low specific gravity of urine
5. Low osmolality of urine
6. Hypernatremia
7. Dehydration

## Investigations: معاینات:

1. Urine osmolality ↓↓
2. Plasma osmolality ↑↑
3. Serum vasopressin تعینول:

که چیرې Cranial DI وي نو د Vasopressin سویه ښکته وي او که چیرې Nephrogenic DI وي نو د Vasopressin سویه زیاته وي.

4. Hypernatremia in blood
5. Hyperurecemia in blood

(c) ketabton.com: The Digital Library



### 6. Water deprivation test د اوبو بندیز معاینه:

دغه معاینه د دوو موخو لپاره ترسره کیږي: 1 په دې معاینې سره DI تشخیص کیږي، 2 په دې معاینې سره د Cranial او Nephrogenic DI ترمنځ فرق کیږي.

دغه معاینه په لاندې انځور کې تشریح شوې ده:

**18.61 How and when to do a water deprivation test**

**Use**

- To establish a diagnosis of diabetes insipidus and to differentiate cranial from nephrogenic causes

**Protocol**

- No coffee, tea or smoking on the test day
- Free fluids until 0730 hrs on the morning of the test, but discourage patients from 'stocking up' with extra fluid in anticipation of fluid deprivation
- No fluids from 0730 hrs
- Attend at 0830 hrs for measurement of body weight and plasma and urine osmolality
- Record body weight, urine volume, urine and plasma osmolality and thirst score on a visual analogue scale every 2 hrs for up to 8 hrs
- Stop the test if the patient loses 3% of body weight
- If plasma osmolality reaches $>300$ mOsmol/kg and urine osmolality $<600$ mOsmol/kg, then administer DDAVP (see text) 2 μg IM

**Interpretation**

- Diabetes insipidus is confirmed by a plasma osmolality $>300$ mOsmol/kg with a urine osmolality $<600$ mOsmol/kg
- Cranial diabetes insipidus is confirmed if urine osmolality rises by at least 50% after DDAVP
- Nephrogenic diabetes insipidus is confirmed if DDAVP does not concentrate the urine
- Primary polydipsia is suggested by low plasma osmolality at the start of the test

## Treatment: درملنه:

### 1. Cranial DI:

#### 1) Desmopressin:

دا ناروغانو ته د پوزې، oral او Parenteral له لارې ورکولای شو، په Gestational DI کې هم کولای شو چې Desmopressin ورکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. **Nephrogenic DI:**

په Mild حالت کي ناروغ ته د خولي له لاري زیات مایعات ورکول کیږي، همدارنګه Hydrochlorothiazide او Indomethacin هم ورکولای شو.

3. **Primary Polydipsia:**

   1) **Psychotherapy**

(c) ketabton.com: The Digital Library



12

# Obesity {online}

چاغوالي یو Multi factorial، مزمنه، عامه روغتیایي ستونزه ده. چاغوالي طبي حالت دي چي پکي د بدن اضافي غوړ او شحم دې کچي ته رسیدلي وي چي ممکن په روغتیا باندي بده اغیزه وکړي (منفي اغیزه وکړي)

که چیري Obesity مزمنه پاتي شي (په خپل وخت ناروغ په Life style changes کي تغیر، مخنیوي او یا د ضرورت په اساس درمل ور نه کړل شي) نو د وخت په تیریدو سره Obesity یو سلسله مزمنو Co morbid حالاتو ته زمینه برابروي چي دا د Obesity اختلاطات شمیرل کیږي. کله چي BMI (body mass index) اندازه د 30 څخه زیاته شي نو Obesity بلل کیږي او یا Abdominal circumference په نارینه وو کي د 102 cm څخه زیات شي او په ښځینه وو کي د 88 cm څخه زیات شي نو په Obesity دلالت کوي.

Upper body obesity کومه چي (Waist او Flunk) په ناحیه کي وي خطرناکه وي نسبت Lower body obesity ته کومه چي په (Thigh او Buttock) ناحیه کي وي.

همدارنګه Visceral fat چي په Abdominal cavity کي وي زیات خطرناک وي نسبت Sub cutaneous tissue accumulation ته.

## BMI (body mass index):

د BMI له نظره د Obesity تقسیم بندي او Risk of obesity co morbidity: څومره چي BMI زیاتیږي نو هغومره د Obesity د Co morbidity خطر زیاتیږي (د Obesity د اختلاطاتو خطر زیاتیږي) لکه:

1. که چیري BMI د 18,5-24,9 ترمنځ وي نو Reference rang BMI (نارمل BMI) ده. چي په دې کي د Obesity co morbidity risk نشته (Negligible) په نشت حساب دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. که چیرې BMI د 25-29,9 ترمنځ وي نو دې ناروغ ته Over weight ویل کیږي یعني ددې ناروغانو وزن زیات وي او risk of obesity co morbidity پکې Mildly increased وي یعني خطر پکې یو څه اندازه زیات وي.
3. که چیرې BMI د 30-34,9 ترمنځ وي نو دا Class I obesity ده او دلته Risk په منځني (Moderate) حالت کې وي.
4. که چیرې BMI د 35-39,9 ترمنځ وي نو دا Class II obesity ده او دلته Risk زیات (Sever) وي.
5. او که چیرې BMI د 40 څخه زیاتیږي نو دا Class III obesity ده چې دلته بیا Risk ډیر زیات (Very sever) وي، د اختلاطاتو خطر زیات دي.

**Box 5.6 Ranges of body mass index (BMI) used to classify degrees of overweight and associated risk of co-morbidities**

| WHO classification | BMI (kg/m²) | Risk of co-morbidities |
|---|---|---|
| **Overweight** | 25–30 | Mildly increased |
| **Obese** | >30 | |
| Class I | 30–35 | Moderate |
| Class II | 35–40 | Severe |
| Class III | >40 | Very severe |

## Etiology: ایتولوژي:

د Obesity ایتولوژي پیچلې ده خو Genetic، Environmental او Behavior (د شخص عادات) په شریکه سره ناروغ ته Obesity پیدا کوي. خو په عمومي صورت سره د Obesity په ایتولوژي کې لاندې دوه خبرې ډیرې مهمې دي:

1. **Increase Energy intake:**
   1) **Portion size ↑↑:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زیاتي اندازي سره غذا خوړل (High calorie) غذا خوړل.

2) Snaking کول

3) Regular meals loss:

غیري منظم غذا خوړل (داسي غذاګاني خوړل چي پکي انرژي او کالوري زیاته وي)

4) Energy dense food

2. Decrease energy Expenditure:

د انرژي مصرف کمیږي لکه:

1) Physical inactivity هغه خلک چي فزیکي فعالیت یي نشته

**19.5 Some reasons for the increasing prevalence of obesity – the 'obesogenic' environment**

| | |
|---|---|
| **Increasing energy intake** | |
| • ↑ Portion sizes<br>• ↑ Snacking and loss of regular meals | • ↑ Energy-dense food (fat and sugars)<br>• ↑ Affluence |
| **Decreasing energy expenditure** | |
| • ↑ Car ownership<br>• ↓ Walking to school/work<br>• ↑ Automation; ↓ manual labour | • ↓ Sports in schools<br>• ↑ Time spent on computer games and watching TV<br>• ↑ Central heating |

خو په ځینو کمو ناروغانو کي کیدلي شي چي د چاغوالي یو خاص فکتور یا علت پیدا شي او دا علت کولای شو تداوي یي کړو چي اکثره دغه فکتورونه Reversible وي مثلآ:

1. Endocrine factors:

1) Cushing syndrome

2) Hypothyroidism

3) Insulenoma

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. **Drugs:**

   1) **Anti-psychotic**
   2) **Sulfonylurea**
   3) **Pizatifen**
   4) **Steroids**
   5) **Valproic acid**
   6) **Beta blockers**

**19.6 Potentially reversible causes of weight gain**

**Endocrine factors**

- Hypothyroidism
- Cushing's syndrome
- Insulinoma
- Hypothalamic tumours or injury

**Drug treatments**

- Atypical antipsychotics (e.g. olanzapine)
- Sulphonylureas, thiazolidinediones, insulin
- Pizotifen
- Glucocorticoids
- Sodium valproate
- β-blockers

**Complications:** **اختلاطات:**

چاغوالي په مختلفو سیستمونو کي مختلف نوعه اختلاطات ورکوي چي ځیني یي په لاندي ډول دي:

1. **Psychosocial complications:**

   1) **Eating disorders**
   2) **Poor self esteem**

(c) ketabton.com: The Digital Library



3) Social isolation
4) Body image disorders
5) Stigmatization
6) Depression

2. **Neurological complications:**
   1) Psuedotumor cerebri
   2) Idiopathic intra cranial hypertension
3. **Pulmonary complications:**
   1) Exercise intolerance
   2) Obstructive sleep apnea
   3) Asthma
4. **Gastrointestinal complications:**
   1) Gallstones
   2) GERD
   3) Nonalcoholic fatty liver disease
   4) Colon cancer
5. **Cardiovascular complications:**
   1) Hypertension
   2) Dyslipidemia
   3) Coagulopathy
   4) Chronic inflammation
   5) Endothelial dysfunction

(c) ketabton.com: The Digital Library



6. **Renal complications:**
   1) Glomerulosclerosis
   2) Renal cancer
7. **Endocrine complications:**
   1) Insulin resistance
   2) Impaired fasting glucose and glucose intolerance
   3) Type II DM
   4) Menses irregularities
   5) Precocious puberty
   6) Poly cystic ovarian syndrome
   7) Hormone related cancer:
      a. Breast
      b. Endometrium
      c. Prostate
8. **Musculoskeletal complications:**
   1) Osteoarthritis
   2) Back pain
9. **Others complications:**
   1) Stroke
   2) Exertional dyspnea
   3) Hypoventilation syndrome
   4) Infertility
   5) Hirsutism


(c) ketabton.com: The Digital Library



6) Urine incontinence

7) Varicose vein

8) Skin infection




19.5 Complications of obesity.

**Medical evaluation of the patient with obesity:**

- د ناروغ څخه مکمله تاریخچه اخیستل، د ناروغ عمر، د چاغوالي د onset په هکله او د تازه وزن بدلون په هکله پوښتنه کول
- د چاغوالي کورنۍ تاریخچي په اړه پوښتنه کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ناروغ د وظیفي پوښتنه کول (څکه څینو وظیفو کي ناروغان هیڅ فزیکي فعالیت نه کوي)
- د الکولو په اړه پوښتنه کول
- د Psychosocial فکتورونو په اړه پوښتنه کول خصوصآ Eating disorder
- کله چي فزیکي معاینه کو نو د ناروغانو BMI باید اندازه شي
- همدارنګه که چیري د چاغوالي Secondary cause موجود وي نو د هغي نښي په ناروغ کي ګورو مثلآ د Hypothyroidism خپلي نښي دي، د Cushing syndrome خپلي نښي دي چي موږ یي په ناروغ کي ګورو
- او مهمه خبره داده چي د چاغ ناروغ باید د چاغوالي پوري مربوط چي کوم اختلاطات وي د هغي لپاره ولټول شي لکه: که HTN وي نو فشار یي وکتل شي، که DM وي نو د ګلوکوز سویه یي وکتل شي خصوصآ Fasting glycaemia یي وکتل شي او که Dyslipidemia یا Atherosclerosis وي نو Lipid level یي باید وکتل شي.

**Management:** **درملنه:**

1. **Diet:**

   1) **Low calorie diet 1000-1500Kcal:**

په 24 ساعتونو کي توصیه شي.

   2) **Low energy density diets:**

داسي غذايي مواد باید استعمال کړي چي کالوري پکي کمه وي او غذايي ارزښت یي زیات وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



3) Use of complex carbohydrates:

لکه هغه کاربوهایدریت چې په سبزیجاتو او میوه جاتو کې وي د هغې څخه باید استفاده وشي.

4) Avoid simple sugars

5) Low fat diet

6) High fiber diet

7) Avoid alcohol

**19.8 Low-calorie diet therapy for obesity**

| Diet | % Carbohydrate | % Fat | % Protein | Comments |
|---|---|---|---|---|
| **Normal** (typical developed country) | 50 | 30 | 15 | |
| **Moderate fat** (e.g. Weight Watchers) | 60 | 25 | 15 | Maintains balance in macronutrients and micronutrients while reducing energy-dense fats |
| **Low carbohydrate** (e.g. Atkins) | 10 | 60 | 30 | Induction of ketosis may suppress hunger |
| **High protein** (e.g. Zone) | 43 | 30 | 27 | Protein has greater satiety effect than other macronutrients |
| **Low fat** (e.g. Ornish) | 70 | 13 | 17 | |

## 2. Exercise:

ناروغان باید په هفته کې 150 دقیقې تمرین وکړي. یواځې Diet او یا یواځې Exercise کولای شي چې په کمې اندازې سره Obesity کمه کړي خو که دواړه Diet او Exercise یوځای توصیه شي نو کولای شي چې تر ډیره پورې Obesity کمه کړي.

همدارنګه هغه ناروغان چې داسې درمل اخلي چې د وزن زیاتیدو سبب ګرځي هغه باید قطع کړي لکه هغه درمل چې مخکې مو ترې په ایتولوژۍ کې یادونه وکړه.

## 3. Anti-obesity medications:

په لاندې حالتونو کې د Obesity ناروغانو ته درمل ورکوو:

- کله چې BMI د 30 څخه زیات شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



- او یا په هغه ناروغ کي چي Obesity related اختلاط لري خو BMI یي 27 هم وي نو په دې وخت کي ناروغانو ته درمل ورکوو لکه:

1) **Phenteramine:**

دا اصلآ Adrenergic agonist دي، چي 37,5mg د ورځي یو ځل توصیه کیږي، که د 28 هفتو لپاره ناروغ ته ورکړل شي نو 5kg وزن یي کموي.

2) **Orlistat:**

